مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۴۰۰ د غبرگولي ۲۴مه | د ۲۰۲۱ د جون ۱۴مه | ۷۳۲مه گڼه

# جگړې، شاتگ او د تېر داستان تکرار؛

## امریکا: گاونډي هېوادونه دې افغانانو ته د بیا کډوال کېدو لپاره لارې پرانیزي




۳

## کاروبار

۴ مخ

### د اماراتو هوايي شرکت

یاد شرکت د کرونا ویروس له خپرېدو مخکې د پروازونو په برخه کې ۱۸ زره کسانو ته د کار زمینه برابره کړې وه او همغه وخت يې په یوه اونۍ کې ۱۳۳ ښارونو ته ۳۴۰۰ پروازونه کړي وو.




### کرنې ریاست: په بغلان کې پر ۳۴۴ بېوزلو مېرمنو د چرگانو پالنې فارمونه ووېشل شول



د بغلان د کرنې ریاست د یاد ولایت پر ۳۴۴ بېوزلو او کونډو مېرمنو د چرگانو روزنې ۳۴۴ واړه فارمونه وېشلي دي. دغه فارمونه چې د مرکزي بغلان، دوشي، بنو اندرآب او ده صلاح په ولسوالیو کې پر بېوزلو او کونډو مېرمنو وېشل شوي، پکې ۶۰ د هگیو چرگان، شپږ داني آب خوره، شپږ داني دانه خوره، د چرگانو ۵۶٦ کیلو دانې او د اړتیا وړ واکسینونه شامل دي.

د یاد ولایت د کرنې رییس عبدالغیاث صدیقي وايي، چې پر بېوزله مېرمنو د چرگانو پالنې د یادو وړو فارمونو د وېش موخه په دغه ولایت کې د چرگانو پالنې د صنعت دودول او د یادو مېرمنو د اقتصادي وضعیت ښه کولو په پار مرسته ده. صدیقي وايي، چې د یادو فارمونو وېش برخمنو مېرمنو ته د ښې کاري بوختیا زمینه برابروي.

په ورته مهال له دغو فارمونو برخمن شوې مېرمنې د بغلان د کرنې ریاست دغه گام ستايي او پر راتلونکي کې د دغه ډول مرستو پر دوام ټینگار کوي.

### افغانان بیا هم کډوالۍ ته اړ ایستل کېږي؟

۲ مخ

### بدیله لار

۲ مخ

### نړول مو زده دي؛ خو د رغولو وړتیا نه لرو

۳ مخ

### ملگري ملتونه: د افغان سولې ټول ملاتړي اړخونه له روان تاوتریخوالي سره مخالف دي

ملگري ملتونه وايي، په افغانستان کې د تاوتریخوالي کمولو لپاره خپلو هر اړخیزو هڅو ته ادامه ورکوي. د ملگرو ملتونو د سکرتر جنرال ځانگړې استازي د افغانستان د بهرنیو چارو له وزیر حنیف اتمر سره کتلي او دواړو لورو پر بېلابېلو مسایلو خبرې کړې دي.

نوموړې ویلي، ملگري ملتونه او ټول هغه اړخونه چې د افغانستان د سولې ملاتړ کوي، د اوسني تاوتریخوالي او روان وضعیت مخالف دي او د دې غوښتونکي دي چې ژر تر ژره دې جگړې کمې شي او یو دایمي اوربند دې رامنځ ته شي. هغه زیاته کړې، چې ملگري ملتونه په افغانستان کې د اوربند د تامین لپاره خپلو هر اړخیزو هڅو ته ادامه ورکوي او تمه لري چې روانې جگړې ژر تر ژره ختمې شي. حنیف اتمر هم د سولې په راتگ کې د نړیوالې ټولنې او ملگرو ملتونو مرسته او همکاري اړینه بللې او ټینگار يې کړی چې د سولې د راوستو لپاره دې خپل فشارونه ډېر کړي. ملگري ملتونه داسې مهال دغه څرگندونې کوي چې اوسمهال د هېواد په ډېریو ولایتونو کې سختې جگړې او نښتې روانې دي. د دغو جگړو او نښتو له کبله په تېره نږدې یوه میاشت کې له ۲۰ ډېرې ولسوالۍ د طالبانو له خوا سقوط شوې دي.

### مجروح: په روغتونونو کې د اکسیجن د کمښت ستونزه په حل کېدو ده




۲ مخ

### مشرانو جرگه: نهادهای امنیتی باید در ستراتیژی جنگی خود تغییر بیاورند



مشرانو جرگه از نهادهای امنیتی خواسته است که در ستراتیژی جنگی خود تغییر بیاورند. سناتوران دیروز در نشست عمومی این جرگه پس از بررسی وضعیت کشور تأکید کردند که نهادهای امنیتی باید در برنامه و رویکرد جنگی خود، مطابق شرایط جنگی کشور تغییر وارد کنند.

طبق اعلام دفتر مطبوعاتی مشرانو جرگه، سناتوران گفته‌اند که وضعیت امنیتی در ولایت‌های فراه، غور، هلمند و ولایات شمالی نگران‌کننده است و برای مهار وضعیت کنونی باید رویکرد جنگی نهادهای امنیتی تغییر کند.


مشرانو جرگه افزوده است که کادرهای نظامی و مسلکی باید بدون دخالت‌های سیاسی و برخوردهای سلیقه‌ای در پست‌های نظامی گماشته شوند.

فضل‌هادی مسلمیار با اشاره به تشدید جنگ در کشور گفته است که تجدید نظر در پالیسی‌های جنگی نیروهای امنیتی در شرایط کنونی موجه است.

سناتوران خاطرنشان کرده‌اند که شهروندان دیگرتاب این همه ظلم، بیداد و قتل عام را ندارند و برای نجات کشور از چنین شرایط جنگی نیاز به راهکار سنجیده شده ملی و ایستاده‌گی سراسری مردم در برابر جنگ‌جویان داخلی و خارجی است.

از جانب دیگر، فضل‌هادی مسلمیار گفته است که علمای پاکستان و جامعه جهانی بر حکومت این کشور فشار وارد کنند تا از جنگ نیابتی در افغانستان و حمایت از گروه طالبان دست بردارد. و نیز با روند صلح افغانستان، همکاری صادقانه کند.

## تعمیر فروشی



یک تعمیر تجارتی به مساحت {316.25 متر مربع} واقع مارکیت میوه {ناحیه 4، کابل -افغانستان} به قیمت مناسب به فروش رسانیده میشود. ضرورت مندان و اشخاصیکه خواهان خریداری آن باشد به شماره تلیفون های ذیل تماس گرفته معلومات اخذ نمایند.

+93 (0)797888154 / +93 (0)798888802

سرلیکنه

## افغانان بیا هم کډوالۍ ته اړ ایستل کېږي؟

د امریکا بهرنیو چارو وزارت د افغانستان له گاونډیو هېوادونو غوښتنه کړې چې د افغان کډوالو پر مخ خپلې پولې پرانیزي. د دغه وزارت ویاند وایي چې دوی د افغانستان له گاونډیو هېوادونو سره د یو پلان پر اساس کار کوي چې د افغانانو د ممکنه تېښتې په صورت کې پوره چمتووالی ولري. د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره سره د جگړې شدت، کرونا او د وچکالۍ له امله رامنځ ته شوی بحران د کډوالۍ د زیاتېدو لامل گڼل کېږي.

افغانان رښتیا هم بیا کډوالۍ ته اړ ایستل کېږي؟

د رسمي شمېرو له مخې، په تېر یوه کال کې د جگړو او وچکالۍ له امله یو لک افغانان له سیمو بې ځایه شوي او داسې وېره شته چې جگړې او وچکالۍ به دا کچه لوړه کړي. په دې وروستیو کې جگړو سخت زور اخیستی او خبره اوس له ولسوالیو ښارونو ته را رسېږي. که جگړه په ښارونو را گډه شوه، نو په شدت سره به د بې ځایه شوو شمېر زیات شي. تر اوسه پورې د جگړو او وچکالۍ له امله د بې ځایه کېدو بهیر له کلیوالو سیمو څخه ښارونو ته و او یا هم په کلیوالو سیمو کې له یوه ځایه بل ځای ته و. که څه هم په افغانستان کې په تېرو کلونو کې سختې جگړې وشوې، خو بیا هم گاونډیو هېوادونو ته کډوالي د پام وړ نه وه. د دې لامل ښایي د گاونډیو تگلارې وې او یا هم ښایي افغانانو تر گاونډیو د خپل هېواد بله برخه غوره گڼله.

په تېرو کلونو کې ډېر خلک له افغانستان څخه وتلي، خو دا متفاوت خلک وو. یوه لویه برخه یې هغه ځوانان وو چې د کار او ښې راتلونکې په هیله ترکیې او اروپایي هېوادونو ته ولاړل. بله برخه یې هغه کسان دي چې له خپلې پانگې سره له هېواده ووتل او په نورو هېوادونو کې یې د پانگونې له لارې د نورو هېوادونو تابعیتونه هم واخیستل، خو له دې هر څه سره سره داسې افغانان هسې گاونډیو هېوادونو ته گډوال نه شول، لکه د شوروي اتحاد له یرغل وروسته او بیا د کورنیو جگړو پر مهال چې شول.

اوس دا وېره چې یو ځل بیا به هغسې کډوالي رامنځ ته شي، د اندېښنې وړ ده. کرونا کې څه هم ستونزه ده، خو افغانان تر هغو له لویو ستونزو سره مخ دي چې لومړۍ یکې جگړه او ور پسې وچکالي راځي. اوس چې د سولې په پروسه کې هېڅ پرمختگ نه ښکاري، پر جگړه تمرکز زیاتېږي، طالبان ولسوالۍ لاندې کوي او خبره تر ښارونو را رسېږي. که حالت همداسې وي، نو وېره زیاته ده؛ ځکه چې په ښارونو کې به نه نسبي امن پاتې نه شي او نه به هم کاروبار او کلي به هم له بې ساري لوږې او فقر سره مخ وي. که پر خلکو په کور دننه د بې ځایه کېدو امکان ودرېږي، نو گاونډیو ته د بیا گډوالۍ اندېښنه جدي ده.

گاونډیو ته ورتگ ذلت دی او افغانانو دا ذلت یو ځل لیدلی دی. که خدای مه کړه دا ځل بیا کډوال کېږي، نو تر پخوا به له لا زیات ذلت او ستونزو سره مخ شي. له همدې امله د جگړې دواړو اړخونو ته پکار ده چې پر دې ولس رحم وکړي او بیا یې د گاونډیو پښو ته ونه غورځوي. دوی باید د سولې خبرې وکړي، ضدیت پرېږدي، انعطاف وښیي او د سولې پروسه بریالۍ کړي، څو افغانان له دې ذلت څخه وژغورل شي.

# بدیله لار

هیواد ځاځی



د دوحې له نیمگړې هوکړې وروسته چې هیڅ لوری پکې د جنگ د خاتمې لپاره ملزوم نه دی گڼل شوی، جنگ لاخونړی شوی. طالبانو ځانونه فاتحین او حکومت له جمهوریت څخه د دفاع لپاره جگړې ته دوام ورکړ او اوس دا دي جنگ لا خونړۍ بڼه ځان ته غوره کړې، چې د دواړو لورو تر څنگ د ورځې پکې لسگونه ملکي افغانان قرباني کیږي. له بل لوري د جنگ د پای ته رسیدو لپاره د خبرو لار تقریباً له اغزیو ډکه ښکاري، استانبول غونډه د طالبانو د مخالفت له امله له ځنډ سره مخ شوې او په قطر کې تر اوږده ځنډ وروسته د پلاوو تر منځ بې پایلې لیدنې د جنگ د پای ته رسېدو او حداقل درېدو تمې له هیڅ سره ضرب کړې دي. په نړیواله کچه او بیا په ځانگړې توگه امریکایان چې له جنگ یې پښه سپکه کړې، اوس د افغان سولې په اړوند بې تفاوتي خپله او د نظارت دنده یې نیولې او ان د دې پروسې د تخریب لپاره وخت ناوخت ضد و نقیض اندونه او فرضیې هم وړاندې کوي. پاکستان هم د تل په څېر پر طالبانو له خپل رسوخ او نفوذ څخه د خپلو اهدافو لپاره په افغانستان کې د گټې اخیستنې لوبې ته له تغییر پرته دوام ورکوي. حکومت د داخلي سیاسي اجماع په برخه کې یا ناتوانه او یا یې هم نه غواړي چې رامنځ ته شي. دې پورته ټولو خنډونو او بې باوریو ته په پام، اړتیا ده چې د سولې د روانو په ټپه ولاړو خبرو ته په صادقانه توگه د دوام او د روانې خونړۍ جگړې د درېدو لپاره په بدیلو افغاني لارو چارو فکر وشي.

لومړی؛ دا چې له پیله تر اوسه د سولې خبرې یوازې د ښکېلو لوریو تر منځ روانې دي، ځکه یې هیڅ پایله نه ده ورکړې، نو بناءً اړتیا ده چې سیاسي احزاب، مطرح څېرې، واقعي قومي مشران، بې طرفه دیني علما، بې طرفه مدني فعالان او د رسنیو استازو له گډون یوه داسې مجموعه رامنځته شي، څو وکولی شي د حکومت له رسوخ او مداخلې پرته د یوه بې طرفه اړخ په توگه لاندې څو کارونه تر سره کړي:

اول- له حکومتي مداخلې پرته دې د طالبانو په گډون د دیني علماوو یوه ستره غونډه راوبولي، څو د جگړې په اسلامي اړخ هر اړخیز علمي بحث وکړي، چې د روانې جگړې اصلي ماهیت له دیني اړخه جوت او د جنگ اصلي څېره وپېژندل شي.

دویم- له بده مرغه اوسني جنگ داسې بڼه خپله کړې چې دواړې غاړې پر یوبل د بریدونو او یو بل ته په پیغور ورکولو تورنوي؛ خو اصلي خبره هم له موږ پټه ده. د همدې لپاره اړینه ده یاده موضوع د یوه را منځته شوي بې طرفه اړخ لخوا وڅېړل شي او په بې پرې توگه په ښکېلو لورو د فشار په رامنځته کولو حکومت او طالب له یادې جگړه ییزې آلې بې برخې کړي.

درېیم- له طالب نظامیانو سره دې د ولایتونو په کچه اړیکې ونیول شي څو په ولایتونو او ولسوالیو کې د جگړې په کمښت فکري غور وشي.

څلورم- یوې داسې بې پرې لویې عنعنوي جرگې ته دې لار پرانیستل شي چې د ولس واقعي استازي پکې گډونوال وي.

پنځم- حکومت او طالبان دې له لمسوونکو او جگړه ییزو الفاظو له کارولو راوگرځول شي او په یاده برخه کې دې په دواړو لوریو فشار راوړي.

شپږم- په افغانستان کې ښکېل اړخونه: ناټو، امریکا او سیمه ییز هیوادونو سره دې د همدې ټولگي له ادرسه د ولس واقعي غوښتنې شریکې او په قاطعیت دې له هغوی د دوه گوني چلند د پای ته رسېدو غوښتنه وشي.

اووم- د همدې بې طرفه مجموعې له ادرسه دې یو ټیم را منځته او د نظارت لپاره دې دوحې ته د دواړو لوریو د خبرو لپاره ولیږل شي او همدارنگه دې له اسلامي سیمه ییزو هیوادونو او ملگرو ملتونو غوښتنه وشي، څو د دوحې خبرو د نظارت او څارنې لپاره استازي ورولیږي.

غوښتنه؛

له ټولو سیاسي څېرو، د گوندونو له استازو، مدني فعالینو او نورو خواخوږو افغانانو هیله کوو، چې د هیواد په اوسني نازک او وژونکي حالت کې د خدای او د هغه د رسول او د حساب د ورځې د راتلو له ډاره خپل سیاسي- قومي او نور اختلافات یوې خوا ته کړي او په یوه اسلامي او ملي روحیه په یوه مجموعه کې راټول شي، څو د هیواد په ژغورنه کې خپل رول په بې طرفانه ډول ادا کړي. له طالبانو مو هم غوښتنه ده چې د ولس غوښتنو ته تمکین وکړي، ځکه ولس جگړه نه غواړي او دوی هم د جگړې په دوام کې خپلو اهدافو ته نه شي رسېدی او حکومت دې هم نور د قدرت د تداوم لپاره د جگړې لوری نه خپلوي.

## مجروح: په روغتونونو کې د اکسیجن د کمښت ستونزه په حل کېدو ده




عامې روغتیا وزارت وایي چې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې په هېواد کې د کرونا وبا یو زر او ۵۹۷ نورې مثبتې پېښې ثبت شوې دي. د یاد وزارت په خبره، په همدې موده کې پر دغې وبا اخته ۸۵ کسان مړه شوي او ۴۷۱ نور بیا بېرته روغ شوي دي.

د روغتیا وزارت د وروستیو معلوماتو له مخې، تر اوسه په هېواد کې پر کرونا د اخته کسانو ټول شمېر ۹۱ زره او ۴۵۸ ته او د مړو شمېر بیا دری زره او ٦۱۲ تنو ته لوړ شوی دی. دا په داسې حال کې ده چې روانه اونۍ د دغه وزارت سرپرست وحید مجروح وویل چې تر ټولو بدې اونۍ په مخ کې شته، نو هېوادوال دې روغتیایي سپارښتنو ته جدي پاملرنه وکړي.

دغه وزارت همدا راز زیاتوي چې په روغتونونو کې د اکسیجن د کمښت ستونزه مخ په حل کېدو ده. د عامې روغتیا وزارت سرپرست وحید مجروح تېره ورځ په کابل کې په یوه خبري غونډه کې د خبرو پر مهال وویل، چې د کرونا د درېیمې څپې پر مهال تر ټولو ډېره اړتیا اکسیجن ته پېښه شوې، چې له همدې امله د عامې روغتیا وزارت ټول تمرکز د اکسیجن د اړتیا پر پوره کولو دی.

د ده په خبره، دمگړی د هېواد په گڼو ولایتونو او د کابل په څلورو لویو روغتونونو کې د اکسیجن د تولید دستگاوې لگول شوي او دغه دستگاوې کولی شي په هر روغتون کې تر ۵۰ پورې ناروغانو ته د اکسیجن اسانتیا برابره کړي. نوموړي همدا راز وویل چې په شمال کې له ازبېکستان او تاجکستان او د هېواد په جنوب کې یې له ایران سره د اکسیجن مرسته غوښتې او دوی ورسره د ورځې تر درې سوه پورې ډبې د اکسیجن د ورکړې ژمنه کړې ده. مجروح دغه راز وایي چې ایران هم په نږدې ورځو کې د ورځې تر دوه ټانکره پورې مایع اکسیجن هرات ته لېږي او ژر به په ټولو روغتونونو کې د اکسیجن د کمښت ستونزه حل شي.

# نړول مو زده دي؛ خو د رغولو وړتیا نه لرو

عبدالوحید وحید

د مارکسېزم د نظریې پلویانو یا هم په بله اصطلاح د خلق دیموکراتیک ګوند سرکښانو د خپل ملت په دینې، دودیزو، کلتوري او عنعنوي ځانګړتیاو باندې له ځان پوهولو او د همدغې اجنبي تیوري په نیمګړتیا او جانبي منفي اړخونو په هکله د دقیقې محاسبې او مطالعې له درلودلو پرته دغه پردۍ تیوري راوړه او په خپل ولس باندې یې په خورا احمقانه توګه د ډنډې په زور د عملي کولو سرټمبه توب ته ملا وتړله. د هیواد له اطرافو او اکنافو څخه د ولس د مختلفو اقشارو او پرګنو طبعي غبرګونونه یې د بغاوت، تمرد، انقلاب ضد، کارګرانو ضد، توره ارتجاع او د امپریالېزم لخوا د مهندسي شویو دسیسو د عملي کولو په تور د ځپلو هڅې وکړې.

هغه مهال چې د خلق دیموکراتیک ګوند پر وړاندې ولسي پاڅون نه و پیل شوی او شورویانو یرغل نه و کړی، په لسګونو زره خلک یې ونیول. د هر ډول قانوني عدلي او قضایي پروسیجر له پلي کولو، انساني کرامت، افغاني حرمت او ارزښتونو ته له پام پرته د هیواد په مختلفو برخو کې د پلیګونونو په نوم ځایونو کې یې کنډې ورته وایستې او ژوندي افغانان یې د بلدوزرونو په واسطه تر خاورو لاندې کړل. پر هیواد باندې د شوروي ځواکونو یرغل د عمومي بغاوت او سرتاسري جګړو د پیل لامل شو، خو زمونږ خپل خلقیان یې په پلیګونونو کې د خپلو خلکو د ژوندي خښولو له وحشت څخه منعه کړل. پنځه میلیونه افغانان یې کډه کولو ته اړ ایستل. له دوو میلیونو زیات افغانان شهیدان شول او مونږ یې ننداره کوله!

یو بل بدلون راغی، یوه بله دوره پیل شوه، د یو بل اوښتون شاهدان شوو، یوې بلې ډلې، یو بل نوم، بل بیرغ او بل شعار دغه هیواد ته راوړ. دغه ډله «مجاهدین» نومېده، د اسلامي انقلاب، اسلامي نظام له شعار تور سپین او شین بیرغ سره کابل ته راننوتل. ولس ورته ښه راغلاست ووایه او د سولې، امن، سوکالۍ او ابادۍ پرېښتې یې وګڼلې. ملت جنګي دوره ختمه وګڼله. دغه ډله هم د پخوانیو غونډې د سیاست په پېچلتیاوو او کړلېچونو نه پوهیدل، جګړه یې زده وه؛ خو د مدیریت تجربه یې نه درلوده. اکثریت یې د واک جنون په سر اخیستي وو. مونږ فکر کاوه چې د اسلامي نظام له اړتیاوو سره سم بدلون به راوړي او عمري عدالت به تامین او د دوو میلیونو شهیدانو وینه به رنګ راوړي، خو زمونږ د هیلو غوټۍ مړاوې شوې او امیدونه مو په سیند کې لاهو شول.

غرب د شوروي ماتېدل د سړې جګړې پای وبلل او افغانستان چې په سره جګړه کې یې محوري رول درلود، شا وګرزوله. ځینو جهادي مشرانو خپله دیني دنده سرته رسولې وګڼله، په کور کېناستل او ځینو نورو د واک په سر په کورنۍ جګړه کې دومره ښکېل شول، چې کابل ونړېده، شپېته زره کابلیان ووژل شول، ملي او شخصي شتمنۍ چور شوې، جهاد بدنامه شو، بنسټونه ونړېدل، کابل کنډواله او افغانستان د ملوک الطوایفي په ډګر بدل شو. نړۍ مو ننداره کوله.

طالبان په لومړي سر کې له کندهار څخه له تازه نوم، تازه بیرغ، تازه شعار او تازه رهبر سره را څرګند شول، زحمت یې وایست، قرباني یې ورکړه، شهامت یې وښود او په ډېرو سیمو کې یې مثالي امن راوست. خلکو هم ورسره د زړه له کومې مرسته وکړه، خو کله چې کابل ته راورسېدل، د کابل خلکو ورسره د کلتوري توپیرونو له امله مرسته ونه کړه. هغوی د طالبانو لخوا په لګول شویو قیوداتو باندې نیوکې درلودې او د ښاري دود خلاف کار یې باله. د طالبانو قیوداتو په ټولیزه توګه کلیوالي دودیزه بڼه درلوده او د کابل د خلکو پر وړاندې یې خپل متحجرانه تګلارو ته دوام ورکړ. د هغوی هم د نړېدو چل زده و، خو د جوړېدو په هنر نه پوهیدل.

طالبانو د کابل له نیولو سره سم په سړیو باندې ږیرې پرېښودل لازم وګرزول، په مامورینو باندې لنګوټه په سر کول حتمي شول. په ښځو باندې د کار کولو بندیز ولګېد او د چادرې په سرکول حتمي شول. په ټلویزیوني خپرونو باندې بندیز ولګید او په راډیو کې د موسیقي پروګرامونه نه چلېدل. د طالبانو له اوامرو څخه سرغړونه د سزا وړ عمل و. داسې ښکارېده چې په نا اګاهانه توګه د ښاري او کلیوالي دودونو تر منځ د ټکر عملي صحنه روانه وه، خو طالبانو نه منله.

شرعي حدود اجرا کیدل، د فساد کچه ښکته وه، زورواکان نه وو، ټوپک سالاران ټول تښتیدلي وو، د جرایمو ګراف ښکته و او له لوړ پوړو چارواکو سره ناسته ولاړه اسانه وه. د ملامحمد عمر مجاهد د احکامو د نه منلو تصور هم ناشونی کار و او په ټولیزه توګه اجرائات سریع وو، خو په شمالي کې ناامني وې، پنجشیر د مخالف قومندان احمدشاه مسعود تر کنترول لاندې و، جګړه روانه وه او مونږ یې ننداره کوله.

د سپټمبر یوولسمه پېښه د عطف نقطه جوړه شوه. د پېښې پړه پر القاعده وروا چول شوه او القاعدې په ځینو رسنیو کې د پېښې مسوولیت ومانه. د امریکا ولسمشر جورج بش د پیښې په تړاو امرانه او جابرانه لهجه کاروله. له طالبانو څخه یې وغوښتل چې اسامه ورته تسلیم او یا یې له خپل هېواد څخه وشړي، خو طالب مشر د اسامه بن لادن له تسلیمۍ او شړلو څخه انکار وکړ. غرب د طالبانو نظام نسکور کړ. یو بل بدلون راغی. یوه بله اجنډا، له یو بل شعار، بل بیرغ او بل نوم لاندې په ولس باندې د تپلو یوه بله هڅه وه. د جرمني په بُن ښار کې ظاهراً د ملګرو ملتونو په مشرۍ د کرزي له مشرتابه لاندې موقت اداره جوړه شوه.

امریکا خپل ټول تښتېدلي جنګ سالاران د نړۍ له اطرافو او اکنافو څخه راټول او پر افغانانو باندې یې مسلط کړل. افغاني الاصله امریکایان یې له ځان سره راوستل. چا ته یې ستر قراردادونه وسپارل او څوک یې هم په لوړو پوستونو وګمارل. د فساد ټولې لارې او دروازې یې ورته پرانیستلې، چې به رسوا شول، نو بیرته به یې غرب ته واستول او له استولو وروسته یې د خلکو د غولولو لپاره ممنوع الخروج اعلان کړل او دغه ډول مبارزه لاهم دوام لري. ټوپکواکان یې د افغانانو د غوښو په خوړلو دومره ځاربه کړل، چې اوس هیواد او د امریکا په نوښت جوړ شوی نظام هم ګواښي.

د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې په نوم جګړه کې د ښځو او ماشومانو په ګډون په سلګونو زره افغانان ووژل شول. ان تر دې چې د ائیتلافي ځواکونو لخوا نیول شوي بېګناه افغانان د خوند اخیستو لپاره هم ووژل شول. دغو وحشیانو د افغانانو اندامونه لا امریکا ته د نښانې په توګه یوړل. فساد ته یې د یوې سرطاني غوډې په څېر وده ورکړه او اوس یې هیولایي شکل غوره کړی دی او مونږ یې لاهم ننداره کوو.

ستونزه چېرته ده؟

په افغانستان کې ملي رهبري نشته. مشران له بهر څخهورباندې تپل شوي دي او یا د جګړو په ډګر کې د ډېر قساوت او شقاوت په معیار راټوکیدلي، پردیو استخدام کړي او په افغانانو باندې تپل شوي دي.

د واک د انحصار، پردۍ اجنډا، ښکته علمي کچې، د سرچینو ظالمانه ویش او د ملي ریښو نه درلودل زمونږ د مشرانو د ناکامۍ بنسټ جوړوي. هره حاکمه ډله نورې ډلې او د نورو فکرونو پلویان د مخالف باغي او دښمن په نوم ځپي. دغه ستونزه د خلق او پرچم له ګوندونو رانیولې تر مجاهدینو، طالبانو او اوسنۍ ډیموکراسۍ پورې له لږ توپیر سره زمونږ په ټولنه باندې حاکمه ده او په نږدې راتلونکې کې هم زمونږ په ستونزو کې د کمي نښې نه ښکاریږي. مونږ یې ننداره کوو.

مونږ د اوښتون او نسکورېدو وړتیا لرو؛ خو د سمون او جوړېدو نه یو. له مارکسیستي رژیم نیولې تر اوسني نظام پورې، له خلقیانو نیولې تر دیموکراتانو پورې، له اخوانیانو نیولې تر ملایانو او طالبانو پورې سمون نه پېژنو او نه وربانديې باور لرو. فکر کوو چې زوړ نظام له ویروسونو ډک او له منځه وړلو ته اړتیا لري، خو کله هم فکر نه کوو چې مونږ د بل نظام د جوړولو اهلیت نه لرو. په کاذب غرور اخته یو.

دوولس کاله وړاندې کیسه ده. زه د چین د درنو وسایطو د جوړولو په یوه فابریکه کې ناست وم. د یوه شرکت لپاره مې د څو لوډرو د جوړولو قرارداد ورسره لاسلیک کاوه. متوجه شوم چې مخته ته د کمونېزم لور او چکوش درلودونکی بیرغ رپیږي. د فابریکې مالک یو هشاش بشاش اخلاقي ځوان و. مال دا څه ډول توجیه کوي چې بیرغ مو د کمونېزم دی او تاسو د دغې ټولې فابریکې یوازینی مالک یاست چې په داخل کې یې له یوه ځای بل ځای ته د تلو لپاره ځانګړې برښنایي موټرونه کارول کیږي؟

وای وحیده! مونږ پخوا هم کمونیستان وو او اوس هم کمونېزم زمونږ مفکوره جوړوي. توپیر یوازې دومره دی چې مونږ د کمونېزم په اقتصادي برخه کې سمون او بدلون راوستی دی.

# جګړې، شاتګ او د تېر داستان تکرار؛

## امریکا: ګاونډي هېوادونه دې افغانانو ته د بیا کډوال کېدو لپاره لارې پرانیزي



له افغانستانه د امریکایي او نورو نړیوالو ځواکونو له وتلو سره جوخت، د هغو افغانانو په اړه اندېښنې مخ پر ډېرېدو دي، چې په تېرو دوو لسیزو کې یې له دغو ځواکونو سره په ژباړې او نورو برخو کې مرستې کړې دي.

د امریکا د دفاع وزارت دوو چارواکو له ان بي اېس نیوز سره په تازه مرکې کې ویلي چې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو لړۍ په بشپړېدو ده، خو ټینګار کوي چې د ټولو ځواکونو په وتلو سره به له هغو افغانانو سره مرسته کول ستونزمن شي، چې کلونه کلونه یې په دغه هېواد کې له امریکایي ځواکونو سره ګډ کار کړی دی.

دغو چارواکو زیاته کړې، که څه هم پنټاګون ویلي چې د خپلو افغان همکارانو د ایستلو په تړاو پر ځینو پلانونو غور کوي، خو په خبره یې، دغه پلانونه د امریکا د ولسمشر جو بایډن تایید ته اړتیا لري. د دوی په وینا، پنټاګون پلان لري چې د جولای میاشتې تر نیمایي پورې خپل ټول ځواکونه له افغانستانه وباسي، خو په دې لنډې مودې کې د خپلو افغان همکارانو ایستل عملي نه ښکاري.

د جیسون کرو او ډې کولو په نوم دغو دوو امریکایي چارواکو ان بي سي نیوز ته ویلي: «موږ د ځواکونو د ایستلو لړۍ نږدې ۵۰ سلنه بشپړه کړې او په راتلونکې لنډې مودې که به دا ناشونې وي چې خپل افغان همکاران هم را سره وباسو».

که څه هم طالبانو په دې وروستیو کې د یوې اعلامیې په خپرولو سره هغو افغانانو ته د خوندیتوب ډاډ ورکړ، چې په تېرو څو کلونو کې یې له امریکایي او نورو نړیوالو ځواکونو سره د ژباړې او په نورو برخو کې همکاري کړې، خو د یادو افغانانو په اړه اندېښنې ورځ تر بلې په ډېرېدو دي.

بلخوا د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې د افغانستان له ګاونډیو هېوادونو سره یې خبرې کړې، ترڅو په دغه هېواد کې د وضعیت له ترینګلتیا سره سم، د افغان کډوالو پر مخ خپلې پولې پرانیزي. یاد وزارت ویلي، که څه هم ټاکل شوې وه چې له افغانستانه به د دوی د ځواکونو د ایستلو لړۍ د روان کال د سپټمبر تر ۱۱مې پورې بشپړه شي، خو په خبره یې تر دې دمه یې له ۵۰ سلنې ډېر پوځیان او نظامي تجهیزات له یاد هېواده ایستلي دي. د سرچینې په خبره، دوی له افغانستانه د خپلو پوځیانو د ایستلو لړۍ په دې وروستیو کې چټکه کړې، چې ښایي تر ټاکلې نېټې مخکې به پای ته ورسېږي.

له افغانستانه په بشپړه توګه د امریکایي ځواکونو د وتلو نېټې په رانږدې کېدو سره روانه اونۍ د امریکا کانګرېس د یوې بېړنۍ استماعیه ناستې پرمهال د هغو افغانانو د امنیت او خوندیتوب په تړاو اندېښنه څرګنده کړه چې له امریکایي ځواکونو سره یې کلونه کلونه همکاري کړې ده. د کانګرېس یادې ناستې ته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انټوني بلېنکن هم راغوښتل شوی و، خو نوموړي د ډېرو جزیاتو له ورکولو پرته ووېل چې دوی د خپلو افغان همکارانو د خوندیتوب لپاره پر ځینو پلانونو غور کوي.


د امریکا د بهرنیو چارو وزارت داسې مهال د افغانستان له ګاونډیو هېوادونو سره د افغان کډوالو پر مخ د پولو د پرانیستل کېدو په تړاو خبره کوي، چې په دې وروستیو کې په دغه هېواد وضعیت ورځ تر بلې د ترینګلتیا پر لور روان دی او هره ورځ پراخې سیمې د طالبانو لاس ته لوېږي.

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسی پېښلړ RAW,ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړن: د اکسوس د ژباړې بورډ

**اوومه برخه**
**راتلونکې ته نظر**




خو اوس هېڅوک هم د ګجرال د د سیمو د لړ بندۍ په اړه خبرې نه کوي. ستاسې مهاراجا (امارېندر سنګ) او شهباز شریف یو وخت د پنجاب ترمنځ دا ډول کارونه پیل کړي وو، که څه هم خبر نه وو، چې د ګجرال ورانديز هم همدا دی.
د استبلشمنټ د بدګومانۍ له کبله دا هڅې د هند لور ته وځنډېدې. ډيلي ښايي پر خپلو سرحدي سیمو کنټرول له لاسه ورکړي؛ خلک به په خوشالۍ سره په خپلو کې په پنجابۍ ژبه خبرې کوي او کشمیري خوراکونه به سره تبادله کوي.
استبلشمنټ د دوی د اړیکو له پراختیا وېره لري. د دوی په نظر د مسیحیانو، کشمیریانو او پنجابیانو ترڅنګ سوداګر هم د باور وړ نه دي. په دوی هېڅ وخت اعتبار نشي کېدای، ځکه دوی ښايي له کنټروله ووځي.
دولت: هغه په سارک هم غږېدلی، که یوازې یې د هند ـ پاکستان په اړه خبرې کړې؟
دورانی: زما باور دا دی، چې دواړه پنجابه له یو بل سره د اړيکو ډېرې زمینې لري، زموږ سند او ستاسې له لوري د سند ګاونډۍ سیمې.
دولت: هو؛ دا کار شونی دی.
دورانی: او ورپسې د کشمیر دواړه برخې. که موږ او تاسې یې پر وړاندې د خنډ له جوړولو پرته له همدغه کاره هم پیل کړو، نو ډېر ژر به درته معلومه شي هغې سیمې چې له خپل مقابل لوري سره نږدې شوې دي، ډېره ښه همکاري يې ښودلې ده. د بسونو تګ راتګ دا پروسه غوړولی شوه، خو بیا «موده وشوه، چې غالب مړ شو، خو اوس هم په هره خبره رايادېږي، چې که داسې شوي وای، نو څه به شوي وای!» بس دا هغه څه دي، چې زه پرې د ناحیه‌بندۍ په اړه پوهېږم.
دولت: په وروستي ځل چې کانګرېس په پنجاب کې ټاکنې اکالیس ته وبايللې، نو مهاراجا چې د دغه ایالت لوی وزیر و، باید له واکه ګوښه شوی وای. د هغه پلویانو به ویل، چې یوازې له پاکستان سره پوله پرانېزئ، هغه به یې له ستونزې پرته وګټي. ځکه هغه د پنجاب ـ پنجاب د اړیکو لپاره ډېر کار کړی و. شهباز آن د یوه سفر پر مهال هغه ته آس ورکړی و. د پنجاب ترمنځ هغه مهال لوبې او ډېر نور کارونه وشول.
سېنها: جنرال صېب هم د اکهنډ بهارت (ستر هند) په اړه وغږېده؟
دولت: اکهنډ بهارت یوه لېونۍ او غیر عملي نظریه ده. دې نظریې له افراطي ښې اړخه سرچینه اخیستې او ځینو مراحلو کې د اډواني صېب لیډلوری هم ورسره شریک دی. واجپای د ۱۹۹۹کال په فبرورۍ کې د پاکستان د سفر پر مهال د پاکستان منار ته په تګ سره دا نظریه خاورو ته وسپارله. تر هغه وروسته د اکهنډ بهارت په اړه جدي خبرې نه دي شوې. خو اوس بیا داسې ښې اړخه کسان مخ ته راغلي، چې په دې اړه لېوالتیا څرګندوي.
زه ددې ټوله پړه پر مودي صېب او د هغه په سلاکار امیت شاه نه اچوم. دا یوه نړیواله پدیده ده، چې له ملت پالنې سره تړاو لري.
سېنها: دا کېدای شي د راتلونکي لپاره یو انتخاباتي کارت وي.
دولت: همداسې ده، لامل یې دا هم دی، چې موږ اوس یو پیاوړی ځواک یوو. اوس هغه پخواني کمزوري کسان نه یوو. مودي بل ډول صدراعظم دی.
دورانی: اکهنډ بهارت داسې تخیل نه دی، چې نن ورځ یې ډېر په اړه فکر وکړي. ډېرو به ویل، چې د محمد علي جناح د روغې جوړې نه منلو هدف دا نه و، چې پاکستان رامنځته کړي، بلکې هغه ځکه دا نظریه رامخته کړې وه، چې د بریتانویانو له وتلو څخه د هند مسلمانانو ته غوره معامله ترلاسه کړي. د هغه په باور ښه فورمول دا و، چې هغو سیمو ته د امکان تر حده کورواکي ورکړل شي، چې ډېری استوګن یې مسلمانان دي. سټیفن کوهن وایي، دا په متحدو ایالتونو کې د هند ـ پاکستان په تړاو د پاکستان اساسي نظریه ده. هغه زیاتوي، چې د هند پر نیمه وچه تجزیه او وېش حتمي پېښېدونکی نه و. ډېر کسان د هند تجزیه تېروتنه بولي او وايي مسلمانانو ته یې لاسته راوړنه څه وه؟ **دوام لري...**

# د اماراتو هوايي شرکت

حشمت الله نوري




د اماراتو هوايي شرکت چې مرکزي دفتر يې په دوبۍ ښار کې دی، دا شرکت متعلق په عربي متحده امارات پورې دی او په منظمه توګه هر ورځ له دبۍ نه د ټاکل شويو اهدافو لپاره منځني ختيځ، اروپا، افريقا، هند، د اسيا حنوب او ختيځ او شمالي امريکا ته تر سره کوي، چې دا ټول پروازونه د دبۍ له نړيوال هوايي ډګر څخه تر سره کيږي.
د اماراتو هوايي شرکت په منځني ختيځ کې تر ټولو لوی شرکت دی، د فلايت رادار معتبر سايت په وينا، اوسمهال ياد شرکت نږدې ۳۰۰ طيارې فعاليت کوي او لا هم ځينې نورې يې د سپارښتې او جوړولو په درشل کې دي. د کرونا ويروس له خپرېدو مخکې د پروازونو په برخه کې يې ۱۸ زره کسانو ته د کار زمينه برابره کړې وه او همغه وخت يې په يوه اونۍ کې د نړۍ ۷۴ هېوادونو ته ۱۳۳ ښارونو ته ۳۴۰۰ پروازونه کړي وو.
د اماراتو هوايي شرکت د نړۍ په کچه د مسافرو په لېږد کې په ۲۰۱۲ کال کې څلورم ځای خپل کړ او همدارنګه په ۲۰۱۳ کال کې د نړۍ غوره هوايي شرکت وټاکل شو.
د ماراتو هوايي شرکت د دبۍ د حکومت لخوا جوړ او لومړی پرواز يې د ۱۹۸۵ کال د ډسمبر مياشتې په ۲۵م د هند هېواد بمبي او ډيلي ته وکړ او د همدې کال په اکټوبر مياشت کې دبۍ- کراچۍ ته هم پروازونه پيل شول. د دغه شرکت لومړنۍ طياره ايرباس ۳۰۰ او بله بوينګ ۷۳۷ وه، چې د پاکستان له پي اي اې څخه يې په اجاره نيولې وې.
امارات هوايي شرکت په ۱۹۹۸ کال کې ۴۰ سلنه سهم د اير لانکا واخيست او د همدغه سرېلانکايي شرکت مديريت يې هم په غاړه واخيست او د ترون له مخې د نوموړي شرکت نوم هم په سرېلانکا واوښت. په اوس وخت کې امارات هوايي شرکت لومړنی شرکت دی چې خپل مسافر په يوه ناسته له استراليا څخه د جان اف کندي نيويوراک هوايي ډګر ته رسوي.
د اماراتو هوايي شرکت په ۲۰۰۴ کال کې د اماراتو حکومت ته ۳٦۸ ميليون درهم ورکړل، دا په داسې حال کې ده چې يو کال مخکې دا رقم ۳۲۹ ميليون درهم و. په ټوله کې له ۱۹۹۹ کال څخه اماراتو يو ميليارد درهم عوايد د دبۍ حکومت ته ورکړي دي.
سره له دې چې د دبۍ حکومت يې سهم لرونکی دی، خو لا يې هم هېڅ کوم مبلغ نه دی ورکړی، البته په لومړي قدم کې يې ۱۰ ميليون ډالره د پانګونې د تامين لپاره په داسې حال کې چې د شرکت په شروع کې ۸۰۰ ميليون ډالره پانګونه شوې وه، ورکړي دي.
په اوس وخت کې د اماراتو هوايي شرکت د يوې ډلې بهرنيانو لخوا اداره کيږي، چې دوی د لويو صنعتي شرکتو مديريتي تجربه لري.
ياد شرکت په ۲۰۰۵ کال کې د څه باندې دوو ميلياردو درهمو چې ۷۰۸ ميليون ډالره سره برابر دي، خالص عوايد تر لاسه کړي دي چې دا هم د نړۍ په کچه يوه غوره ځانګړنه ده، چې د اماراتو هوايي شرکت د کړنو په تاريخ کې ځانته ځای لري.
د ماراتو هوايي شرکت هغه ځانګړنې چې له نورو هوايي شرکتونو څخه يې دا شرکت ځانګړی کړی دی، دا دي:
ياد شرکت د نورو هوايي شرکتونو خلاف يو ساده سازماني بيرغ لري، چې کم مصرف پرې راځي او له بلې خوا اسانه پېژندل کيږي.
ياد شرکت د لګښتونو په کنټرول کې اوله خبره کوي او له اړتيا پرته ډېر مصارف نه کوي، چې په نړۍ کې د رايان اير هوايي شرکت وروسته دويم مقام لري.
د اماراتو هوايي شرکت د نړۍ مهمو سازمانونو او ټولنو غړيتوب نه لري. بل د دبۍ جغرافيايي موقعيت د مسافرو او د هغوی د مالونو د انتقال لپاره ډېر مهم دی. بل ښه والی يې دا دی چې د پروازونو محدوديت نشته، شپه ورځ ياد هوايي ډګر د پروازونو پر مخ خلاص دی.
د ياد شرکت ټولې طيارې سون توکي نسبت نورو ته کم مصرفوي، ځکه چې ټولې طيارې يې نوې دي.
د اماراتو شرکت د جوړېدو زيات وخت نه کيږي، نو ځکه له ځينو ستوزو لکه د کارمندانو اعتصاب، د ډېر لګښت او داسې نور سره تر اوسه نه دی مخ شوی او همدا دې چې د نړۍ د هوايي شرکتونو کې ځانته ځای لري.
د اماراتو هوايي شرکت نسبت ايربس او بوينيګ طيارو ته خپل قېمتونه ډېر ټيټ کړي وو، چې د سپټمبر د يوولسمې له پېښې وروسته يې ډېر عوايد تر لاسه کړل او په همغه وخت کې يې ۱۵۰ طيارو دوه تړونونه لاسليک کړل. همدا د دې سبب شو چې اماراتو هوايي شرکت د نړۍ په صنعتي مارکېټ کې ځان ته ښه ځای پيدا کړي او خلک يې ورځ تر بلې د خدماتو او د سفر د سهولتونو ستاينه کوي. ياد شرکت څه کم دوو لسيزو کې له يوه وړوکي محلي شرکت څخه د سيمې په کچه او بالاخره اوس د نړۍ د ډېرو هوايي شرکتونو جدي رقيب بلل کيږي او ډېري خلک په دې اند دي چې امارات به د نړۍ په کچه يو لوی صنعتي شرکت باندې بدل شي او هر کال د نويو طيارو د پېرولو هوډ لري او غواړي چې د هر هېواد له شرايطو سره سم ځان سمبال کړي.
نن ورځ د اروپا، استراليا، ايرفرانس بريتيش او کانتاس هوايي شرکتونه، امارات هوايي شرکت ځانته جدي تهديد ګڼي، ځکه چې امارات هوايي شرکت ورځ تر بلې په نړۍ کې خپله د کار او خدماتو ساحه پراخوي او د نورو شرکتونو په نسبت د ياد شرکت نه سترې کېدونکي هلې ځلې دا په ډاګه کوي، چې پر نورو هوايي شرکتونو د دوی اغېز لا زياتيږي.
د اماراتو هوايي شرکت د ۱۴۲ ايربس طيارو د اخيستلو سپارښتنه کړې ده، چې وروسته له سنګاپور، ايرلاينز او کانتاس نه درېيم لوی شرکت دی. دوی تر ۲۰۱۸ کال پورې ۱۰۱ ايربس طيارې تر لاسه کړې، چې دا د نړۍ په کچه نورو هوايي شرکتونو ته د سيالۍ ښه خبر نه و، خو امارات هوايي شرکت غوښتل چې د نړۍ په کچه غوره طيارې او بهترين سهولتونه خپلو مسافرو ته برابر کړي او د همدې کال په وروستيو کې امارات هوايي شرکت ۳٦ نورو ۳۸۰ ايربس سپارښتنه هم له ياد شرکت څخه وکړه، چې ټولټال ياد تړون ۱٦ ميلياردو ډالرو ته لوړ شو او ټولې ايربس ۳۸۰ طيارې به په ۲۰۲۰ کال کې ورته سپارې.
د اماراتو هوايي شرکت د خپل برانډ د شهرت تر څنګ د سپورت ډېر ټيمونه سپانسر يا هم مالي مرسته ورسره کړې ده.
د اماراتو هوايي شرکت ځينو حوادثو ته به هم اشاره وکړه چې له جوړېدو يې تر نن پورې په تاريخ کې ثبت شوي دي.
د ۲۰۰۴ کال د اپرېل په ۱۹مه د ژوها نسبورک ښار چې په جنوبي افريقا کې دی، اې ۳۴۰ ايربس ډوله طياره چې د پورته کېدو په حال کې وه، له خپل مسير نه ووته او وزر يې د ميدان له چراغونو سره ولګېد، خو له نيک مرغه چې ځاني تلفات يې نه درلودل.
په ۲۰۰٦ کال کې ۳۳۰ ايربس ډوله طياره چې وين ښار ته روانه وه، له لږ ځنډ وروسته د تخنيکي ستونزو له امله يې بېړنۍ ناسته وکړه، چې له نيک مرغه ځاني تلفات يې نه درلودل.
په ۲۰۱٦ کال کې ۷۷۷ بويينګ ډوله طياره سره له ۲۸۲ مسافرو د هند په جنوب کې چې د دبۍ په طرف روانه وه، بيړنۍ ناسته وکړه چې ځينې مسافر يې سطحي زخمي شول، خو يو اور وژونکی پکې مړ شو.
د اماراتو هوايي شرکت له تاسيس نه تر اوسه پورې ۵۰۰ نړيوالې جايزې اخيستې دي، چې ځينو ته يې اشاره کوو:
په ۲۰۱٦ کال کې د نړۍ غوره هوايي شرکت وټاکل شو؛ په ۲۰۱۵ کال کې يې هم د نړۍ په کچه پنځم مقام تر لاسه کړ؛ په ۲۰۱۴ کال کې يې هم د غوره ايرلاين څلورم مقام تر لاسه کړ؛ په ۲۰۱۳ کال کې يې د نړۍ لومړۍ ايرلاين وټاکل شو؛ په ۲۰۱۵ کال کې د طيارې د ننه د تفريحي وسايلو غوره ايرلاين وټاکل شو؛ په ۲۰۱٦ کال کې د لومړي کلاس ايرلاين وټاکل شو او پاتې دې نه وي چې د اماراتو هوايي شرکت خپلو مسافرو ته د خوراک او څښاک تر څنګ، د انټرنېټ سهولت چې کولای شي د ۳۵ زره فوټ ارتفاع نه د خپلې کورنۍ او ملګرو سره خبرې وکړي، ماشومانو ته د لوبو توکي، کارټوني فلمونه، د هاليووډ او باليووډ نوي فلمونه چې هر مسافر په خپله چوکۍ کې ځانته سکرين لري او د روژې په مبارکه مياشت کې د مسلمانانو لپاره د روژه ماتي او پشلمي ځانګړې د خوراک بستې لري.
دغه شرکت د خپل کار د پيل راهيسې د وخت په تېرېدو سره ډېر نور کارونه هم کړي دي او افتخارات يې تر لاسه کړي دي او لا هم کوشش کوي چې د نړۍ په کچه په غوره مقام کې پاتې شي.
د کرونا ويروس په راتګ د اماراتو هوايي شرکت ۴۳۰۰ کارکوونکي له دندې ګوښه کړي دي.
د سنګاپور د يوه تازه جوړ شوي هوايي شرکت الوتکه په بې وقفې توګه په ۱۹ساعوتونو کې ۱٦۷۰۰ کيلومتره واټن وهي. دا په نړۍ کې لومړی تر ټولو اوږد پرواز دی.
دغه الوتکه ٦۷ بيزنس کلاس او ۹۴ د اقتصادي کلاس څوکۍ لري او په دې ترتيب سره يې د مسافرو د ارامیتا او سهولت برخې ته پام کړی دی. دغه نوې الوتکه د ايربس A۳۵۰-۹۰۰ په څېر د تېلو د کم مصرفه ټکنالوژۍ سمباله ده او هڅه شوې ده چې په لږو تيلو سره اوږد پرواز وکړي.
تر دې وړاندې د قطر د هوايي شرکت ۷۷۷ بوينګ ډوله الوتکې د نړۍ د تر ټولو اوږده پرواز لقب خپل کړی و. د قطر د هوايي شرکت يادې الوتکې له نيوزيلنډ څخه د قطر پلازمينې دوحې ته بې توقفه ۱۴۵۰۰ کيلومتره پرواز کړی و.
د قطر د هوايي شرکت تر اوږده پرواز وړاندې د اماراتو هوايي شرکت ايربس A۳۸۰ ډوله الوتکې هم تر ټولو اوږد مزل کړی و. يادې الوتکې بې توقفه په ۱۴۲۰۰ کيلومتره مزل وهلو سره تر دې وړاندې د اوږده مزل لقب خپل کړی و.

همیانۍ

# کلب هاوس څه شی دی او کومې اسانتیاوې لري؟

ژباړه: احسان الله کريمي




کلب هاوس څه شی دی او کومې اسانتیاوې لري؟
ژباړه: احسان الله کريمي
په دې ورځو کې به د کلب هاوس په اړه حتمن ډېر څه اورې. دغه ټولنیزه شبکه ده چې تازه جوړه شوې او زیاتره کسان ورته ور جذب شوي دي.
په دې ټولنیزه شبکه کې د پېژندل شویو ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي او کلتوري شخصیتونو شتون د کلب هاوس نوم د خبرونو په سرټکو بدل کړی دی. په دې مقاله کې به د کلب هاوس شبکې بېلابېلې برخې در وپېژنو او دغه راز دا به هم درته وښیو، چې څنګه کلب هاوس اکونټ جوړ او ګټه ورنه واخلو.
کلب هاوس یوه ټولنیزه د خبرو کولو شبکه ده، چې کارونکو ته اجازه ورکوي څو له یوبل سره د خبرو کولو په ګروپونو(ډلو) کې صوتي پیغامونه ولېږي. کلب هاوس تر اوسه په ټولنه نړۍ کې د زیاتره خلکو پام ځانته اړولی، چې په یو کال کې یې د کارونکو شمېر ۱۰ میلیونو تنو ته رسېدلی دی. کلب هاوس ته د دومره زیاتو کسانو د جذبېدلو علت د پېژندل شویو سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو شخصیتونو شتون ښودل شوی دی.
اوس لوی شرکتونه او هغه کسان چې غټ کاروبارونه لري، په کلب هاوس کې له یو بل سره د نظر تبادله کوي. په ورته وخت کې د دې شبکې د کارونو پر وړاندې د کلب هاوس له لوري ځینې شرطونه هم ایښودل شوي دي. هغه کسان چې غواړي کلب هاوس جوړ کړي، باید د دې شبکې له یوه فعاله غړي څخه بلنه تر لاسه کړي او د هغه له بلنې پرته نه شي کولای چې په کلب هاوس کې واوسي. تر اوسه دا معلومه نه ده چې کلب هاوس به خپله دغه بڼه بدله کړي او کنه.
ولې باید د کلب هاوس غړي واوسو؟
د کلب هاوس ګټې او کارونه:
ولې باید د کلب هاوس غړي واوسو؟
لکه څنګه چې مو وویل چې دغه شبکه ټولنیزه او په یوه ګروپ کې جوړه شوې ده، اوسمهال په یاده شبکه کې زیاتره ګروپونه جوړ شوي دي، چې هر هغه څوک چې علاقه او د خوښې وړ ګروپونه یې وي، ورتللی شي او د هغه ګروپ له غړیو سره د نظر تبادله کولای شي. که د کلب هاوس له ګټو او کارونو څخه خبر نه یاست، کومه د اندېښنې وړ خبره نه ده، وړاندې مو ۵ دلیلونه راوړي، دا دلیلونه کولای شي له کلب هاوس سره مو لا ډېر اشنا کړي.

**۱ـ د خبرو اترو فرصت**

له شکه پرته تر ټولو مهم او ګټور کار د دې ټولنیزې شبکې دا دی، چې له بېلابېلو خلکو سره کولی شي په یو وخت کې خبرې وکړي. کېدلی شي نورې ټولنیزې شبکې هم دغسې کار تر سره کړي، خو کلب هاوس ډېر داسې امکانات کس ته په واک کې ورکوي، چې د نوموړي خبرې مدیریت شي. په دې شبکه کې کولای شی چې د داسې ګروپونو غړي شی، چې د دې ګروپونو د نورو غړو تر منځ چې کومې خبرې سره تبادله کېږي، غوږ ونیسی او خپله هم کولای شی چې د دې ګروپ غړي و اوسی.

**۲- شبکه**

دا شبکه په جوړو شویو ګروپونو کې ډول ډول موضوعات پوښي او کولای شي چې د یو داسې ګروپ غړي شی، چې علاقه ورسره لری او کولای شی له هغه چا سره خبرې وکړی کوم چې مو هدف وي او یاهم علاقه ورسره لری.
د بېلګې په توګه، که تاسې ډاکتر وی، کولای شی په کلب هاوس کې د روغتیاپالانو یو ګروپ ته ورشی او لا ډېرې تجربې او د هغوی نظریات تر لاسه کړی.
په دې وخت کې د کلب هاوس ګټه دا شوه چې له دې ګروپ څخه کولای شی ډېره تجربه تر لاسه کړی.

**۳- د تخصصي موضوعاتو یادونه**

یو بل تر ټولو مهم کار چې په کلب هاوس کې یې تاسې تر سره کولی شي، دا دی چې تخصصي بحث کولی شی، چې دا مو بیا پر مسلک او زده کړو مثبت اغېز کولي شي. د بېلګې په توګه، د انجنیرۍ پوهنځي د اخیري کال محصل یاستی، مخکې له دې چې د کار ډګر ته داخل شی، غواړی اړینې تجربې تر لاسه کړی چې په دې وخت کې کولای شي په کلب هاوس کې چې د کوم ګروپ غړي یاستی، د دې ګروپ له تخصص لرونکو څخه یې تر لاسه کړئ.

**۴- د خپلې وړتیا ښودل**

که علاقه ولری او له هغو کسانو سره باید اشنا شئ چې ستاسې خوښېږي او په داسې ډول له هغوی سره پیژندل غواړی، چې وړتیا مو ورته معلومه شي، نو ځای یې کلب هاوس دی. په دې شبکه کې تاسې کولی شی میکروفون واخلئ او هغه څه ووایئ، چې تاسې یې ویل غواړی.

**۵- د فشار کموالی**

د تخصصي ګروپونو تر څنګ، په کلب هاوس کې تفریحي د لوبو او هنر ګروپونه هم شته، چې له دې ګروپونو سره په یوځای کېدو کولای شی خپل ذهني فشار کم او کار مو په ښه ډول تر سره کړی.

**څنګه کولای شو چې د کلب هاوس غړي شو؟**

که پلان لری چې له دې شبکې سره تازه ونښلئ او غړي یې جوړ شی او وربانديې بلد نه یاست، تشویش مه ورته کوئ. موږ یې دلته درته لاره ښیو:
۱- د یوبل ملګري لخوا بلنه تر لاسه کړئ
له هرڅه د مخه چې تاسو غواړی د کلب هاوس غړي شی، باید د یو ملګري لخوا بلنه تر لاسه کړئ. دا بلنه به د دې شبکې له کاروونکو څخه وي او تاسو ته باید ولېږل شي. له بلنې پرته هم کولای شي چې کلب هاوس ډانلوډ کړئ، خو هغه وخت کې یوازې کولای شی خپل نوم پکې ور زیات کړی او د انتظار په لېست کې پاتېږی. د انتظار په لېست کې ستاسو نوم په دې شبکه کې ستاسو دوستانو ته ورځي او هغه کولای شي تاسو ته بلنه ولېږي او په هغه صورت کې تاسو خپل حساب فعال کولای شی.
وروسته له بلنې څخه باید د خپل موبایل د اړیکې شمېره باندې خپل حساب جوړ کړئ او وروسته تر هغه خپل ایمیل ادرس او دغه راز د حفاظت کوډ ورکولای شی. که د دې ټولو حوصله نه لری، کولای شی د خپل ټویټر له حساب څخه هم د دې اکونټ په جوړولو کې ګټه واخلئ.

# راپورونه: په نایجیریا کې د یوه وسله وال برید پرمهال ۵۳ کسان وژل شوي

د راپورونو له مخې، د نایجریا په شمال لوېدیځ کې د زمفارا په ایالت کې پولیس او د سیمې اوسیدونکي وایي، چې وسله والو غلو چې په موټرسایکلونو سپاره وو، په څو کلیو بریدونه کړي او هر څوک چې پر مخ ورغلي، ویشتلي او وژلي یې دي.
ځایي اوسېدونکي او د پېښې عیني شاهدان وایي چې برید کوونکو یو شمېر کسان په کروندو کې ووژل او په ځینو پسې تر کوره ورغلل چې غوښتل یې ځانونه وژغوري. د زمفارا د ایالت د پولیسو ویاند محمد سیهو فرانس پرېس خبري اژانس ته ویلي چې په دغه برید کې ۵۳ تنه وژل شوي او له برید وروسته پولیس سیمې ته استول شوي دي.
د سیمې یوه اوسېدونکي موسی ارزیکا ویلي چې په برید کې د وژل شویو کسانو جنازه کول هم خطرناک دي؛ ځکه چې وسله وال په ځنګلونو کې پټ شوي او هر وخت د بل برید د کولو خطر شته دی.
د یادونې ده چې د نایجریا په شمال لوېدیځ او مرکزي برخو کې په دې وروستیو کلونو کې د ښارویو د غلو، جنایي ډلو او سړي تښتوونکو بریدونه ډېر شوي دي. دغه کسان پر کلیو بریدونه کوي، کلیوال وژني یا یې د پیسو لپاره تښتوي او د ښارویو تر څنګ خلک شکوي او کورونو ته اور اچوي.



د کلیوالو سیمو اوسېدونکو تېره اونۍ د زومي په ولسوالۍ کې د څو ساعتونو لپاره عمومي لویې لارې تړلې وې او له چارواکو څخه یې د دغو بریدونو د بندېدو غوښتنه کوله.
سیمې اوسېدونکي وایي، چې جنایي ډلې اوس هڅه کوي چې د ښوونځي ماشومان د پیسو لپاره وتښتوي. د راپورونو له مخې، جنایي ډلو د تېر کال له ډسمبر میاشتې راهیسې له ۸۵۰ زیات زده‌کوونکي تښتولي او له باج اخیستلو وروسته یې خوشې کړې دي.
ډېری جنایي ډلې دا کارونه د پیسو لپاره کوي او مذهبي نظریه نه لري، خو اوس له مسوولینو سره اندېښنې پیدا شوې، چې ښایي جهادي ډلې چې له تېرو ۱۲ کالونو راپه دېخوا د اسلامي دولت د جوړولو لپاره مبارزه کوي، د دې جنایي ډلو سره لاس یو کړي.

اقتصاد

**د اسعارو بیې**

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۵۵ |
| € | ۹۴,۵۰ |
| Rp. | ۴۹۷ |
| ₹ | ۱۰۶۵ |
| ¥ | ۱۱,۵۰ |
| £ | ۱۰۸,۸۰ |

**بېړنۍ شمېرې**

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسير ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ډیزاین:** حسیب الرحمن ساحل
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

دوشنبه د ۱۴۰۰ د غبرګولي ۲۴مه | د ۲۰۲۱ د جون ۱۴مه | ۷۳۲مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۳۳ | ۳۹ | ٤۳ | ۳٥ | ٤۳ | ۳٥ |
| ١٦ | ۲۲ | ۲۶ | ۲٥ | ۲٤ | ۲۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۴ | لمر ختل ۰۴:۴۰ | ماسپښین ۱۱:۵۴ | مازیګر ۰۴:۵۶ | ماښام ۰۷:۰۸ | ماخوستن ۰۸:۵۳

## نړۍ



راپورونه: په نایجیریا کې د یوه وسله وال برید پرمهال ۵۳ کسان وژل شوي ۵

## راپورونه: په سوریې کې په توغندیزو بریدونو کې ۱۳ کسان وژل شوي او لسګونه نور ټپیان دي

د راپورونو له مخې، د سوریې په شمالي ښار عفرین کې د توغندیو په دوو جلا بریدونو کې نږدې ۱۳ کسان وژل شوي او لسګونه نور ټپیان شوي دي. د دغو بریدونو خبر سیمه‌ییزو رسنیو او د ترکیې حکومت ورکړی دی.

د عفرین د ملکي دفاع یو شمېر سرچینو رسنیو ته ویلي، چې په یوه برید کې د هستوګنې یوه سیمه او ورپسې په یوه بل برید کې یو روغتون په نښه شوي چې له کبله یې یاده مرګ ژوبله رامنځته شوې ده. په ټولنیزو رسنیو کې له خپرو شویو تصویرونو ښکاري چې په دغو بریدونو کې د الشفا روغتون ودانۍ هم ویجاړه شوې ده.

په ورته مهال د سوریې د بشري حقونو د څار لندن مېشتې ډله وايي چې پر دغه روغتون په برید کې یو ډاکتر، د روغتون درې کارکوونکې، دوې ښځې او دوه ماشومان وژل شوي دي. دغې ډلې په دواړو بریدونو کې د وژل شویو کسانو شمېر ۱۸ تنه ښودلی دی.

بلخوا انقرې بیا ادعا کړې چې توغندي د سوریې د کوردانو وای پي جي ملېشو توغولي دي. د ترکیې پوځ په سیمه کې پراخ حضور لري، خو د امریکا له ملاتړه برخمن د سوریې ډیموکراتیک ځواک چې مشري یې وای پي جي کوي، ویلي چې په دغو بریدونو کې لاس نه لري.

کمیسیون مستقل حقوق بشر:

## شماری از ولسوالی‌های کشور در محاصره اقتصادی طالبان قرار دارند



کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان اعلام کرده است که شماری از ولسوالی‌ها در کشور در محاصره اقتصادی گروه طالبان قرار دارد.

در اعلامیه کمیسیون مستقل حقوق بشر آمده است که با محاصره اقتصادی و بسته شدن راه‌های مواصلاتی ولسوالی‌ها توسط گروه طالبان مردم نمی‌توانند به مواد غذایی و خدمات اساسی دسترسی داشته باشند.

کمیسیون مستقل حقوق بشر هشدار می‌دهد که این وضعیت نگران کننده است و باید پیش از این که بحران و فاجعه انسانی جدی و فراگیر به وجود آید، پایان یابد.

کمیسیون مستقل حقوق بشر افزوده است که استفاده از محاصره اقتصادی در جنگ‌ها، جنایت است. به باور این کمیسیون، استفاده از این شیوه جنگی، حق حیات را سلب، گشت‌وگذار و امکان بهره‌مند شدن مردم از حقوق اقتصادی شان را از آنان می‌گیرد.

با این حال این کمیسیون خواستار بازشدن فوری راه‌ها شده است تا مردم در شرایط حساس جنگ، خشک‌سالی و همه‌گیری کرونا به نیازهای اساسی شان دسترسی پیدا کنند.

این در حالیست که در این اواخر با افزایش نبردها در بخش های مختلف کشور شاهراه و راهای منتهی به ولسوالی های دور دست کشور نیز از طرف گروه طالبان مسدود شده است، که مردم و اهالی این ولسوالی با مشکلاتی زیادی مواجه می‌باشند.

CoAR 1989
Citizens Organization for Advocacy and Resilience
موسسه مدنی دادخواهی وتوانمندی
اعلان مجدد داوطلبی
موسسه مدنی داد خواهی و توانمندی (COAR) به کمک مالی موسسه IRC تصمیم دارد برای تطبیق پروژه (تعلیمی) درولایت کندهار به تعداد 589 کیت های صنفی خریداری نماید. انعده شرکت های لوژستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط، لایسنس مدار اعتبار باشند لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (Jun 14, 2021) الی (Jun 24,2021) به دست آورد. و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.
خانه نمبر ۴۸ نارسیده به پل وحدت، پل سرخ کارته چهار ناحیه سوم شهر کابل.
procurement@coar.org.af

CoAR 1989
Citizens Organization for Advocacy and Resilience
موسسه مدنی دادخواهی وتوانمندی
اعلان مجدد داوطلبی
موسسه مدنی داد خواهی و توانمندی (COAR) به کمک مالی موسسه IRC تصمیم دارد که در ولایت کندهار برای حفظ الصحه شاگردان به تعداد 475 باب تشناب اعمار نماید. انعده شرکت های ساختمانی که دارایی تجربه کاری مرتبط، لایسنس مدار اعتبار باشند لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (Jun 14, 2021) الی (Jun 24,2021) به دست آورد. و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.
خانه نمبر ۴۸ نارسیده به پل وحدت، پل سرخ کارته چهار ناحیه سوم شهر کابل.
procurement@coar.org.af

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کیږي، ترلاسه کړي.
www.azizibank.af 1515
عزیزی بانک
Azizi Bank